امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

هفته نامه
# مدیریت حوادث

۱۲ الی ۱۷ عقرب ۱۴۰۳

شماره هشتاد و یکم



## په کابل کې د مرستو د رسوني دوام؛ له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د ۳۲۰ زیانمنو کورنیو لپاره د خوراکي او غیر خوراکي مرستو د وېش لړۍ پیل کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د کابل والی الحاج ملا امین الله عبید، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس محترم مولوی نجیب الله انوری او د رسنیو استازو په شتون کې، په کابل ولایت کې د بېلابېلو پېښو له امله ۳۲۰ زیانمنو کورنیو لپاره د خوراکی او غیر خوراکی مرستو د ۱۴۴۶ کال د جمادی الاول ۴ نېټه د وېش لړۍ پیل کړه.
محترم ترابی صاحب د دغو مرستو د وېش پر مهال، د تېرې ورځې مرستو ته په اشارې سره چې په کابل کې ۵۰۰ کورنیو ته وېشل شوې وې، ټینګار وکړ چې دا لړۍ به تر خپل وس پورې دوام ومومي. نوموړی همدارنګه...

ادامه در صفحه۲

## د اورلګېدو د مخنیوی لپاره د دایمی تخنیکی کمېټې نوبتی غونډه ترسره شوه



د اور لګېدو د مخنیوی لپاره د دایمی تخنیکی کمېټې نوبتی غونډه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست د محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ، د کورنیو چارو وزارت، ښار جوړونې او هستوګنې وزارت...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامی هوساینی مؤسیسې تر منځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی او د اسلامی هوساینی مؤسیسې مؤسیس رئیس محمد ذوالقرنین عباس د پروګرامونو مسؤل رحمت الله خوګیانی او مل پلاوی سره وکتل...

ادامه در صفحه۳

## سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث روند توزیع مساعدت خوراکی برای ۵۰۰ خانواده در کابل را آغاز کرد



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، روند توزیع مساعدت غذایی برای ۵۰۰ خانواده متضرر ناشی از حوادث مختلف را با حضور...

ادامه در صفحه ۴

@afghanistanndma
Afghanistanndma
andma.gov.af
0202104926

## په کابل کې د مرستو د رسونې دوام؛ له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې سرپرست د ۳۲۰ زيانمنو کورنيو لپاره د خوراکي او غير خوراکي مرستو د وېش لړۍ پيل کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدين ترابی، د کابل والی الحاج ملا امين الله عبيد، د کابل ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئيس محترم مولوی نجيب الله انوری او د رسنيو استازو په شتون کې، په کابل ولايت کې د بېلابېلو پېښو له امله ۳۲۰ زيانمنو کورنيو لپاره د خوراکی او غير خوراکی مرستو د ۱۴۴۶ کال د جمادی الاول ۴ نېټه د وېش لړۍ پيل کړه.

محترم ترابی صاحب د دغو مرستو د وېش پر مهال، د تېرې ورځې مرستو ته په اشارې سره چې په کابل کې ۵۰۰ کورنيو ته وېشل شوې وې، ټينګار وکړ چې دا لړۍ به تر خپل وس پورې دوام ومومی. نوموړی همدارنګه له مرستندويه ادارو څخه غوښتنه وکړه چې خپل ملاتړ زيات کړی او زيربنايی پروژو ته ډېره پاملرنه وکړی.

د محترم ترابی صاحب په وينا، نن په کابل کې ۳۲۰ هرې زيانمنې کورنۍ ته ۵۰ کيلو اوړه، ۲۵ کيلو وريجې، ۱۰ کيلو بوره، ۴۰۰ ګرامه کارنفلور، نيم کيلو مالګه، او ديونيسف موسيسی لخوا يوه کارتن چې دماشومانو لپارت څوارلس قلمه ژمنی توکی پکې شامل دی، ووېشل شول.

همدارنګه، د کابل والی الحاج ملا امين الله عبيد څرګنده کړه چې اسلامی امارت او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره تل د ولس ترخنګ ولاړ دی او د دې نښه د نن ورځې مرستې دی چې زيانمنو کورنيو ته وېشل کېږی.

د يادونې وړ ده چې له دغو مرستو څخه ګټه اخيستونکو مننه وکړه، خو ويې ويل چې دا بسنه نکوی او د نورو مرستو غوښتنه يې هم وکړه.

## د اورلګېدو د مخنيوی لپاره د دايمی تخنيکی کمېټې نوبتی غونډه ترسره شوه



د اور لګېدو د مخنيوی لپاره د دايمی تخنيکی کمېټې نوبتی غونډه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست د محترم الحاج ملا نورالدين ترابی په مشرۍ، د کورنيو چارو وزارت، ښار جوړونې او هستوګنې وزارت، صنعت او سوداګرۍ وزارت، د کابل ښاروالۍ، د تېلو او ګازو ادارې، د افغان ملی بيمې ادارې، د افغانستان بانک، او د کابل مرکزی اطفايې رئيس د ۱۴۴۶ کال د جمادی الاول ۳ نېټه په ګډون ترسره شوه، دا غونډه په تجارتی، هستوګنيزو او پمپ سټېشنونو کې د اور لګېدو د مخنيوی پلان په هکله جوړه شوې وه.

غونډه د قرآن عظيم الشان د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شوه او په دې غونډه کې په لاندې ډول پرېکړې وشوې:

سر له سبا، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ به د کابل ښار ټول پمپ سټېشنونه او د سوداګرۍ مرکزونه د ټاکلې کمېټې له لوری ارزول او څارل کېږی، او هغه چا چې احتیاطی تدابیر یې په پام کې نه وی نیولی او په دې برخه کې یې سرغړونه کړې وی د ریاست الوزرا اقتصادی معاونیت ته به معرفی کیږی تر څو چی د سرغړونکو مرکزونه مهرلاک شی. دا څکه چی په مرکز او ولایتونو کی د اړونده ادارو لخوا د پرلپسې توصیوو سره سره بیا هم اکثره وګړی اوامرو ته اتناع نکوی چی په پایله کی په هیواد کې پرلپسې د اورلګیدو پیښې رامنځته کیږی.
غونډه په دعا کولو سره پای ته ورسېده.

## له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامی هوساینی مؤسیسې تر منځ دګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی او د اسلامی هوساینی مؤسیسې مؤسیس رئیس محمد ذوالقرنین عباس د پروګرامونو مسؤل رحمت الله خوګیانی او مل پلاوی د ۱۴۴۶ کال د جمادی الاول ۳ نېټه سره وکتل.
ترابی صاحب د یادی مؤسیسې راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړل چی په ډیرو ولایتونوکی زیایمنی کورنۍ شتون لری چی مرستو ته جدی اړتیا لری او باید ټول مؤسیسات او سازمانونه خپلی مرستی ورسره وکړی ترڅو پر وخت زیانمنی کورنۍ د مرستو څخه برخمنی سی.
همدارنګه ترابی صاحب د راغلی پلاوی څخه مننه وکړه چی تل یی دزیانمنو کورنیو سره بیلابیلی مرستی کړی دی او باید خپل مرستی د افغان اولس سره جاری وساتی او همیشه دطعبی او غیر طبعی پیښو ځپلو کورنیو سره دوامداره همکاری وکړی او هغه مواد دی پر خلګو دمرستی په توګه وویشی چی خلګ ورته اړتیا لری.
د اسلامی هوساینی مؤسیسې مؤسیس رئیس محمد ذوالقرنین عباس دیادی ادارې د سرپرست څخه ځانګړی مننه وکړه چی پر وخت یی کارونه خلاص شوی دی او په کارونو کی یی موږ ته چټکتیا راویستلی ده.
همدارنګه عباس وویل چی یاده مؤسیسه په بیلابیلو برخو کی د خلګو سره مرستی کوی چی یو برخه یی دطعبی او غیر طبعی پیښو زیایمنو کورنیو سره نغدی، خوراکی او غیر خوراکی توکو مرسته کوی او تل یی دسیلاب ځپلو؛ مهارجرینو او پیښو ځپلو خلګو سره همکاری کړی ده.
دیادونی وړ ده چی یاده موسیسه د ۱۱۸۲۰۵ ډالرو په ارزښت د تخار ولایت په تالقان، کلفګان او رستاق ولسوالیو کی د سیلابونو له امله زیایمنو شویو کورنیو سره نغدی مرسته کوی چی ټوټل ۵۴۰ د نغدی پیسو پاکټه دی چی په هر پاکټ کی ۱۶۵.۵ ډالره دی چی معادل یې ۱۱۳۰۰ افغانۍ کیږی هری کورنۍ ته تر سروې ورسته ویشل کیږی.

# سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث روند توزیع مساعدت خوراکی برای ۵۰۰ خانواده در کابل را آغاز کرد



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، به تاریخ ۳ جمادی الاول سال ۱۴۴۶ روند توزیع مساعدت غذایی برای ۵۰۰ خانواده متضرر ناشی از حوادث مختلف را با حضور محترم ملا جانان سائق، رئیس اطلاعات و ارتباط عامه و محترم قاری خوشحال زمانی، رئیس عملیات اضطرار این ادار و رسانه‌ها در کابل آغاز کرد.
محترم ترابی صاحب حین افتتاح این پروسه از وجود شفافیت در توزیع مساعدت‌ها صحبت کرده گفت که تیم‌های ما پس از سروی و ثبیت خانواده‌های متضرر و مستحق امروز زمینه مساعدت برای ۵۰۰ خانواده را در کابل فراهم کرده اند.
سرپرست اداره همچنان بیان داشت که این روند در روزهای گذشته هم تطبیق شده و در روزهای آینده نیز جریان می‌داشته باشد.
وی گفت که امروز برای هر خانواده مقدار یک بوری آرد و یک بوری برنج توزیع می‌شود و این مواد از کشور های مختلف مانند ازبیکستان، ترکمنستان و چین به این اداره اهدا شده است.
در همین حال، دریافت کننده‌گان این مساعدت‌ها از اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث سپاس گذاری کرده و با توجه به زمستان پیشرو خواستار کمک‌های بیشتر شدند.

## په ترافیکی پېښه کې د یو شهید کورنۍ ته خوراکی مرستې ووېشل شوې




د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت مقام په لارښوونې، په ترافیکی پېښه کې د یو شهید کورنۍ ته خوراکی مرستې ووېشلې.
یادې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیتره غوړي، ۲ بوري مکروني او ۱ کارټن مګی آش ووېشل شول.

## د ۶۸۵ زره او ۷۶۰ امریکایي ډالرو په مجموعي ارزښت د بشري مرستو د همغږۍ موسسې (OCHR) سره د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاری دفتر کې د ۱۴۴۶ کال د جمادی الاول ۲ نېټه د بشري مرستو د همغږۍ موسسې (OCHR) اجرائیوی رئیس محترم عبدالبصیر حقمل سره وکتل، او د دې موسسې د پروژې جزئیات یې تر اورېدو وروسته، د ګډې همکارۍ هوکړه لیک یې ورسره لاسلیک کړ.
په دې غونډه کې، محترم ترابي صاحب په بېلابېلو ولایتونو کې د بشري مرستو د موسسو فعالیتونو څخه د خوښۍ څرګندولو ترڅنګ وویل چې موږ د هغوی لپاره د اغېزمنو فعالیتونو زمینه برابروو او د راتلونکی ژمی په نظر کې نیولو سره باید مرستې له پخوا ډېرې شي او زیانمنو ته د رسېدنې بهیر له پخوا چټک پر مخ ولاړ شي.
په همدې حال کې، ښاغلی حقمل د مرستندویه بنسټونو سره د دې ادارې د همکارۍ څخه مننه وکړه او ویې ویل چې دوی په بادغیس، لغمان او نورستان ولایتونو کې د ۱۸۷۶ زیانمنو کورنیو سره د ژمي د مرستو یوه پروژه تر لاس لاندې لري چې د دې هوکړه لیک تر لاسلیک وروسته به یې د پلی کېدو بهیر بې له ځنډه پیل شي.
د یادونې وړ ده چې د دې هوکړه لیک له مخې، ۱۸۷۶ زیانمنو کورنیو ته د بادغیس ولایت په جوند ولسوالۍ، د لغمان ولایت علیشنګ او علینګار ولسوالیو او د نورستان ولایت دو آب، مندول او نورګرام ولسوالیو کې نغدی مرسته ویشل کېږي، په داسې ډول چې ۶۲۹ کورنیو ته په نورستان، ۴۱۲ کورنیو ته په لغمان او ۸۳۵ کورنیو ته په بادغیس ولایت کې هرې کورنۍ ته د ۲۰۰ امریکایي ډالرو معادل افغانۍ وېشل کېږي.
همدارنګه له دې جملې څخه به ۹۳۸ بې وزلو کورنیو ته د ژمی مرستې ویشل کېږي چې په دې مرستو کې: د ماشومانو لپاره ۵ جوړه جاکټونه، ۲ جوړه نارینه جاکټونه، ۲ جوړه ښځینه شالونه، ۲ پتو، ۲ جوړه نارینه بوټونه، ۴ جوړه د ماشومانو بوټونه، ۱۲ جوړه جرابې، ۴ جوړه د ماشومانو دستکشونه او ۴ جوړه د ماشومانو خولۍ شاملې دي، چې د دې مرستې د هرې کڅوړې ارزښت ۷۴ ډالر دی. همدارنګه، 4 تختې یو نفره کمپلې او ۲ تختې دوه نفره کمپلې چې ارزښت یې ۵۷ ډالر دی هم ویشل کېږي.

## ۱ میلیون او ۴۷۷ زره افغانۍ نغدی پیسې ۱۰۰ سېلاب ځپلو کورنیو ته د کورونو د ترمیم لپاره په بغلان ولایت کې ووېشل شوې



د ACTED موسسې د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ، د یاد ولایت دوشی او بغلان مرکزی ولسوالیو اړوند ۱۰۰ کورنیو ته چې د وروستیو سېلابونو له امله یې کورونه ویجاړ شوي و، د کورونو د ترمیم لپاره ۱ میلیون او ۴۷۷ زره افغانۍ نغدی پیسې ووېشلې.
په دې مرستو کې له سروې وروسته د یاد ریاست او موسسې ګډ پلاوی په شتون کې هرې کورنۍ ۱۴۷۷۰ افغانۍ ترلاسه کړې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سرپرست په کابل کې د قلعه حیدر د اورلګېدنې له سیمې څخه لیدنه وکړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري سرپرست محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د ۱۴۴۶ کال د جمادی الاول ۱ نېټه د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ په قلعه حیدر کې د اورلګېدنې له سیمې څخه لیدنه وکړه او د اورلګېدنې له امله د زیانمنو شویو سره یې خپله خواخوږی څرګنده کړه.
محترم ترابی صاحب دزیانمنو سره د خواخوږی په څرګندولو سره وویل چې په سیمه کې ګډ ټیمونه شتون لری او د اورلګېدنې د پېښې رامنځته کېدو د څرنګوالی څېړلو او له سروې وروسته به له زیانمنو سره اړین تصمیمونه  ونیول وشی.
د یادونې وړ ده چې د دې پېښې له رامنځته کېدو وروسته، د اطفائیې ټیمونه په لومړیو ساعتونو کې د پېښې ځای ته ورسېدل او د اور د خپرېدو مخه یې ونیوله.
همدارنګه د دې پېښې زیانمنو د اطفائیې ګډو ټیمونو او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له مشرتابه د منني او قدردانۍ ترڅنګ د اړینو همکاریو غوښتنه وکړه.
د یادونې وړ ده چې د دې اورلګېدنې له امله انسانی تلفات او مالی زیانونه رامنځته شوی، چې دقیق راپور به یې له بشپړې ارزونې وروسته شریک شی. همدارنګه د ګاز ټانکر ټوټې د اورلګېدنې ځای څخه ۲ کیلومتره شاوخوا ته غورځېدلې او ځایی خلکو ته یې مالی زیان رسولی دی.

## په بغلان ولایت کې د ۱۵۸۵ سېلاب ځپلو کورنیو لپاره د ۳۵ میلیونه او ۱۸۷ زره افغانیو نغدو پیسو د وېش لړۍ پیل شوه



د IOM موسسې د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ، د یاد ولایت دوشي، بغلان مرکزي، پلخمري او برکه ولسوالیو اړوند ۱۵۸۵ کورنیو ته چې د تېرو سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې، د 35 میلیونه او ۱۸۷ زره افغانیو نغدو پیسو د وېش لړۍ پیل کړه.
په دې لړۍ کې د یاد ریاست مشر مولوي هدایت الله همدرد او د موسسې استازي په شتون کې د هرې کورنۍ لپاره ۲۲۰۰۰ افغانۍ په پام کې نیول شوي وې.
د مرستو ترلاسه کوونکو له مسؤلینو خوښۍ څرګنده کړه او د نورو مرستو غوښتنه یې وکړه.

## ۱ میلیون او ۸۷۹ زره او ۷۰۰ افغانۍ ۳۲ سېلاب ځپلو کورنیو ته په کندهار ولایت کې ووېشل شوې



د اسلامک ریلیف موسسې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري سره د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ، ۳۲ کورنیو ته چې د یاد ولایت په ارغستان ولسوالۍ کې د وروستیو سیلابونو له امله زیانمنې شوې وې، ۱ میلیون او ۸۷۹ زره او ۷۰۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشلې.

په دې مرستو کې ۲۷ کورنیو ته د دریيم قسط ۶۷۶۰۰ افغانۍ، او ۵ کورنیو ته د کورونو ترمیم لپاره ۱۰۹۰۰ افغانۍ نغدی پیسې هرې کورنۍ ته ووېشل شوې.

## برای ۳۱۶ خانواده آسیب‌دیده از حوادث طبیعی در بامیان کمک نقدی زمستانی توزیع شد




سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM) در هماهنگی با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث، برای ۳۱۶ خانواده متضرر از حوادث طبیعی در ولسوالی‌های مرکز، یکاولنگ، یکاولنگ ۲، پنجاب، ورس و کهمرد ولایت بامیان که قبلا سروی و شناسایی شده بودند، کمک نقدی توزیع کرد.

به هر خانواده مبلغ ۲۲,۲۰۰ افغانی به‌عنوان کمک زمستانی، با حضور رئیس مبارزه با حوادث طبیعی ولایت بامیان در مرکز بامیان اهدا شد.

شایان ذکر است که در مجموع برای این ۳۱۶ خانواده مبلغ ۷۰۱۵۲۰۰ افغانی توزیع شده است.

## په سمنګان ولایت کې د کندهار او هلمند لسو کډوالو او بې‌ځایه شویو کسانو ته د خوراکي توکو وېش



د سمنګان ولایت د خلکو د غوښتنې او ولایت محترم مقام د احکامو پر بنسټ، د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اړوند پلاوی له خوا د دقیقې ارزونې او سروې وروسته، د کندهار او هلمند لسو کډوالو او بې‌ځایه شویو ته خوراکي مرستې ووېشل شوې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته ۷۵ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړی، ۱ بوری مکروني او ۱ کارټن مګی آش ووېشل شول.

## در ولسوالی دندغوری ولایت بغلان، مؤسسه اسلامیک ریلیف برای ۳۰۵ خانواده کارگر ابزار کار توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان در همکاری با مؤسسه اسلامیک ریلیف در ولسوالی دندغوری (قریه‌های امرخیل، وردگ، منگل، و گدایخیل)، برای ۳۰۵ خانواده کارگر ابزارهای کاری توزیع نمود.
این ابزارها شامل بیل، کلنگ، کلاه، دستکش، عینک، جاکت، و یک جفت بوت بودند. همچنین، کراچی، سطل، متر، طناب، پمپ، سطل آب، ترموز، و بشکه آب می باشد.
این کارگران در یک دوره ۲۰ روزه، آبراه‌هایی را که در اثر سیلاب‌های اخیر با گل و لای پر شده‌اند، پاک‌سازی خواهند کرد. هر کارگر روزانه مبلغ ۴۰۰ افغانی دستمزد دریافت می‌کند که در مجموع به هر کارگر ۸۰۰۰ افغانی می‌رسد. برای ۳۰۵ کارگر، مجموعاً مبلغ ۲,۴۴۰,۰۰۰ افغانی توزیع خواهد شد.
در همین حال باشندگان قریه امرخیل از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و مسئولین مؤسسه اسلامیک ریلیف به دلیل توجه و همکاری در حل مشکلات‌شان تشکر کردند.

## په غزنی ولایت کې د پېښو له امله ۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیر خوراکی مرستې ووېشل شوې



د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له کره سروې وروسته، هغو ۴ کورنیو ته چې د ګازو د دېږې د چاودنې له امله زیانمنې شوې وې او د کورنۍ غړو او توکو یې زیان لیدلی و، خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۱۰ لیتره غوړي، ۷ کیلو بوره، ۱ کیلو چای، ۵ تختې کمپلې او ۱ صحي کیټ، همدارنګه، یوې کورنۍ ته د پخلنځي یو کیټ او یوه خیمه هم ووېشل شوه.

## ۴۹ خانواده در بدخشان جهت ترمیم خانه مساعدت نقدی دریافت کردند



موسسه اکتید با هماهنگی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان، برای ۴۹ خانواده متضرر ناشی از حوادث طبیعی در ولسوالی یفتل مساعدت نقدی جهت ترمیم منزل توزیع کرد. خانواده‌های مذکور هر یک مبلغ ۱۴,۷۷۰ افغانی در این قسط دریافت کردند و علاوه بر آن از این جمله ۱۲ خانم بی‌سرپرست به صورت امتیازی ۲,۳۵۰ افغانی دیگر نیز اهدا شد.

## توزیع کمک‌های غذایی و غیرغذایی به ۱۰۷ خانواده آسیب‌دیده و نیازمند در ولایت هرات



در ولایت هرات، برای ۱۰۷ خانواده که به دلیل حوادث طبیعی و آتش‌سوزی آسیب دیده و با مشکلات اقتصادی مواجه بودند، کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع شد.
ریاست آمادگی مبارزه با حوادث هرات برای هر خانواده ۱۰۰ کیلو گندم، کمپل، سطل آب و اقلام صحی و بهداشتی توزیع کرد.

### اقدامات ضروری در هنگام آتش سوزی

**پیام ما:**

۱ محیط آتش سوزی را به سرعت ترک نمایید
۲ اگر شرایط امن است به دیگران کمک کنید
۳ زنگ خطر را به صدا در بیاورید
۴ هر چی عاجل به اطفائیه تماس بگیرید